شاه شجاع او بیرک

د تاریخ په تله کې

حاله مقایسه او عجیب مشابهت

لیکوال: حبیب الله رفیع (۱۳۶۴)

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

"شاه شجاع" او "ببرک"

د

تاریخ په تله کې

(جالبه مقایسه اوعجیب مشابهت)

لیکوال

حبیب الله رفیع

۱۳۶۴/۱۹۸۵



(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب نوم :—— شاشجاع اوبرک شا

لیکوال : —— حبیب الله رفیع

د پښتی طرح : محمد روحانی میلمنی

خطاط : —— شاه محمود پتنک

ناشر : —— امان کتاب

د خپرولو نومره : —— (۱۴)

د چاپ کال : —— هـ ش ۱۳۶۴
هـ ق ۱۴۰۶
ع ۱۹۸۵

د چاپ شمیر : —— ۵۰۰ توکه

بیه : ۶ روپی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ترون

د هغو ټولو سپېخلو شهیدانو

په نوم

چې په دې یوه نیمه پیړۍ کې یې

له انګریزانو او روسانو سره

مقدس جهاد کړی دی

ح ، رفیع

(c) ketabton.com: The Digital Library

فهرست

سرلیک	مخ
سریزه	۶
لومړی برخه:	
له شاه شجاع نه تر ببرک شاپورې	۹
دوهمه برخه:	
د افغانستان د تاریخ دوې پانې	۱۹
لومړی پانه: د انګریزانو لومړی تېری او د افغانانو ملی پاڅون	۲۱
دوهمه پانه: د روسانو لومړی تېری او د افغانانو ملی پاڅون	۳۶
دریمه برخه:	
د بالاحصار نندارې	۴۹
ضمیمه	۵۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلسلې

د دې پاڼو په لړ کې د پښتو ادب ځینې هغه اثار چې د سرونو سلسلې په نامه خپرېږي، له سکاټلنډ څخه تر چین پورې د پښتو ادب مینونکو ته وړاندې کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم

تاریخ د ملتونو قدنما او حقیقت نما هنداره ده ، دا هنداره پښتنی ثبتوي اوښېرې لکه څنګه چې دي هماغسې ښکېي ؛ تاریخ خوک بدلولی او غولولی نشي ؛ هدا سبب دی چې د تاریخ قضاوت قاطع اوپریکړی دی ، نه په چارحم کوي اونه له چا سره ظلم .

تاریخ ملتونه دخپل تاریخ له کړښونه درس اخلي ، د خپل پرون په غبرګې د خپل نن پل پورته کوي او د سبا په لور په پخه اوټاکلې لاره یون کوي .

د افغانستان د تاریخی ملت تاریخ همداسې یو نمونه او له پندونو او درسونو ډک تاریخ دی ، دلته دهر ښکرور اوزورور راغلې محیني ضعیف النفس اوځان پلورې کسان ېې هوندلي خو د ټول ملت احساسات یا لاندې کول ېې له وس نه وتلې اود افغاني تاریخ د ناموس خلاف وه او ده اوپه پای کې ېې شرمېدلې ماته حتمي وه اوده .

د پردو د تېریو په مقابل کې نمونې د ملت ثابت درېځ نمونې د تاریخ په اوږدو کې دهرې ورته پېښې زېږولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د پېرو ببلا ببلو تېريو سېر او د پېل او پای تکی يې
سره غوټه کړي دي .

يوله دې مشابهتونو څخه پر افغانستان باندې يو نيم کاله
پخوا د انګريزانو د لومړي تېري داستان او جريان دې چې پر افغانستان
باندې د روسانو له روان تېري سره ډېر ورته والی او مشابه اړخونه
لري ؛ موږ په دې رساله کې همدا مشابهت څېړلی او ويره جالبه مقايسه
تري جوړه شوې ده .

دا اثر دری برخې لري : په لومړۍ برخه کې په نولسمه پېړۍ کې
پر افغانستان باندې د انګريزانو د لومړي تېري او په شلمه پېړۍ
کې پر افغانستان باندې د روسانو د لومړنۍ تېري يوه لنډه پرتلنه
او مقايسه ده چې يوځانګړی مطلب دی مقدمه - بحث او نتيجه
لري ؛ په دوهمه برخه کې په هډۍ دوو تېريو باندې په دوو بحثونو
کې مفصله څېړنه ده چې په دې توګه لومړۍ برخه ددې برخې له پاره
د نتوتګې او مدخل ښه غوړه کوي ؛ درېيمه برخه بيا هم په
هډۍ موضوع ليکله شوې او ددې اوږده بحث يوه ادبي نتيجه ګيري
پې بللای شو .

موږ د تاريخ دا جالبه مقايسه او عجيب مشابهت په دې وخت
کې چې له وحشي روسانو سره زموږ مقدس جهاد په بشپړ قوت
او لوی خدای جل جلاله په مرسته په بري روان دی ، د لوستونکو مخې
ته ږدو او د تاريخ د تېرو مسيرونو په بناء د روسانو په محتومه ماته
حکم کوو او خپلو درنو هيوادوالو او مجاهدينو ته دا وړ يا دول غوښتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې باید له تاریخ نه درس واخلي او د خپل وحشي دښمن د ماتولو له پاره له هغوی سره، چارو، ایثار، فداکاری او لوړپښتنه کار واخلي چې ددوی پلرونو د انګریزانو د تېریو په وخت کې کار تري اخیستی وُ .

تر دې لنډې یادونې وروسته هو ددې کوچنۍ رسالې لوستلو ته رابولو او د روسانو د بشپړې ماتې په هیله د اسریزه سره رانغاړو او په موضوع پیل کوو .

په هینه

ح ، رفیع

پېښور ، کوزتاکال

۱۳۶۳/۹/۸

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی برخه:

له «شاه شجاع» نه تر «بیرك شاه» پورې

پنځوس زره انګریزي پوځ ورپسې وځ
«شاه شجاع» بریت تاوول سپرد دفاع ؤ
خو یوازې خرسان ترڅو «بیرك» تر شا ته
دا دی ځکه «بیرك شاه» ها «شاه شجاع» ؤ

(c) ketabton.com: The Digital Library

موږ نه وایو چې تاریخ تکرار پیدا خوله دی نه هم باید ستر کې پټې نه کړای شي چې تاریخي هیوادونه د هغو پخوسیند و نو تل اوتلاړلار ته ورته دي چې دپیړیو په پیړیو کې روانې اوبه په خپل قالب کې اچوي ، تاریخي پېښې قالب بندي کوي او خپل ځانګړې اثر وربخښي؛ له دې ډول هیوادونو څخه افغانستان یو تاریخي او تاریخ جوړونکی هیواد دی چې تمدن یې له تاریخ سره غېرګ راښلیدلی او د ژوندانه پخوس زړه کلنې نښې نښانې یې په لاس کې دي . دا هیواد د پیړیو په اوږدوکې د راز - راز تیری کوونکو او اشغالګرانو تر یرغل لاندې راغلی دی خو دې هیواد مسلمانو او مېړنیو زاهنو دا تول تیری شنه کړي او یرغلګرې یې په خپلو وینو لړلي دي .

لیږې نه ځو د موضوع د روښانتیا به له پاره پر افغانستان باندې د وخت د لوی بنکیلاکچر قوت انګریز لوېږی تجاوز او ددې وخت د لوی یرغلګر قوت روس لوېږی تیری سره پرتله کوو ، سره له دې چې ددې دوو تیریو زمانې فاصله د یوې نیمې پیړۍ شاوخوا ده خو ورته والی یې د هر سره زیات او د توجه وړ دی :

انګریزان په ۱۸۳۹ع کال کې پرته ۱۴۵ کاله وړاندې له خپل تر پخوس زړه زیات لښکر سره د هیواد له ختیځ او جنوب ختیځ لوري څخه د « شاه شجاع » په نامه دیوه فراري سړي د حمایت په پلمه زموږ په هیواد راښکته ، د انګریزانو د تیري منطق دا وُچې موښه « شاه شجاع » پر خپل هوو ځي تخت کښېنوو او د حالا تر تر کابو کېدو ورسته بېرته خپل هیواد ته ستنیږو . دا لښکر په تېرو عصري وسلو

(c) ketabton.com: The Digital Library

اونظامي تجهيزاتو سنبال ډ چې لنډيز يې دا دی :

«د بنګال ډويژن د جنرال کاتن په قوماندانۍ ۹۵۰۰ تنه، د بمبيي ډويژن د سرجان ګين په قوماندانۍ ۵۶۰۰ تنه، د جنرال دنکن زيرمه شوی لښکر ۴۲۵۰ تنه ، د بمبيي زيرمه شوی لښکر ۳۰۰۰ تنه ، د شاه شجاع لښکر ۶۰۰۰ تنه ، دده دزوی تيمور شاه لښکر ۴۸۰۰ تنه ، د پنجاب د سکهانو مرسته مسلمان لښکر ۶۰۰۰ تنه ، د سکهانو قوت الظهر ۱۵۰۰ تنه ، چې توپ يې ۸۰ توپونه ، ۹۴۰ تنه توپچيان او ۵۹۰ تنه مهندسين درلودل، داټول عسکر ۵۴۱۵۰ تنو ته رسيدل چې ۱۲۰۰۰ تنه يې دلوازمو کارکوونکي او ۳۰۰۰ سره يې بار وړونکي اوښان درلودل، هر جنګي انجنير يو نوکر درلود ، هر فيل دوه مهترات اوهر لښکر دوه سقاوات درلودل اولس بار وړونکي اوښان ؛ هر اس يو مهتر درلود ، د هرو شپاړسو تنو عسکرو يو آشپز او د هرو دريو اوښانو يو خدمتوان ډ ؛ شرندګري ، نانبايان ، قصابان، خيمه وهونکي ، کسبګر او خرڅوونکي هم پردې «بجلل» لښکر وه زياتېدل ؛ اما انګريزي افسرانو هريوه افسر لس اوښان ، يوه ګاومېښه ريږه ، پنځه د سپرلۍ آسونه ، دوه يابوګان او تقريباً شلو پښو تنه کارکوونکي اوخدمتګاران درلودل ، ودوسته انګريزي ميرمنې هم له يو شمير ميټو او هريو اوتخت روانوونو سره په ځيات تجمل سره د افغانستان ميلمستون ته راننوتل . د افغانستان پرلاړو باندې ددې «بجلل» اردو تېرېدل لکه د ملخانو سيل

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې وې چې د هیواد په کلیوا و ښارونو راالویدل او خواړه، وابنه او هیوې یې په خپله مخه کې له منځه وړل .» (افغانستان درهسیر تاریخ ، د اروابناد غبار تألیف ، ۵۲۳ مخ .) .

هدارا ز روسان په ۱۹۷۹ع کال کې له خپل سل زرین مجهز لښکرسره د افغانستان له شمالي او شمال لویدیځ لوري څخه د خپل یوه فراري ځیره خو ببرك تزارمل د حمایت په پلمه زمونږ په وطن راتوپې شول ، د روسانو دتیري منطق هم دا وې چې مونږ ببرك د کابل پرتخت کښېنوو او د وضعې تر آرامه وروسته زمونږ لښکر بېرته زمونږ هیواد ته ستنېږي ، دې لښکرمکمل عصري تجهیزات درلودل اوپه دې تیري کې هوایي تېری م له دې کبله چې په دې یونیم کال زمانې وانن کې الوتکه اختراع شوې او پرانستیا یې کېږي وه ، شامل وې ؛ سره له دې چې د روسي متجاوز لښکرد مهماتو جزئیات تر اوسه په لاس کې نشته خوپه زدهاوتوپونه اوټانکونه ورسره وو ، په سلهاوې الوتکې ورسره ملې وې او په دې سربېره یې ممنوعه کیمیاوی اوزهرلرونکې وسله م له ځانه سره درلوده او په سلهاوې زره کله شینکوف اووژرونکې وسلې یې افغانستان ته له ځان سره راوړلې .

د پرلوی توپیر چې په دې دوو تېریوکې موجود وې دا وې چې شاه شجاع د انګریز د لښکرو په مخکښ صف کې د کندهار له لارې وطن ته را ننوت خو ببرك تزارمل په افغانستان کې د روسي عسکرو ترځای پرځای کېدلو وروسته د روسي الوتکې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ټول بکس کې په پټه افغانستان ته راننه ایستل شو. هدا راز شاه شجاع خپله واکمني (!) په کندهار کې په یوه غونډه کې اعلان او "تاج پوښي" ترسره شوه خوبیرك د مسکو او تاشکند له راډیوګانو څخه خپل رښتلی رژیم اعلان کړ او د بریژنیف په وړاندې یې د هېواد پلورنی مراسم ترسره کړل.

انګریزانو د لاهور د درې اړخیز متړون له مخې چې په ۱۸۳۸ع کال د انګریزانو، رنجیت سنګه او شاه شجاع ترمنځ شوی وُ، افغانستان اشغال کړ او روسانو د هغه ترون له مخې چې په ۱۹۷۸ع کال یې له خپل بل ملګري، تره کي، سره په مسکو کې لاسلیك کړی وُ، د افغانستان په اشغال لاس پورې کړ.

افغانانو ته کله چې څرګنده شوه چې د افغانستان واکمن شاه شجاع نه بلکه مکناټن دی او انګریزان د هېواد په ټولو چارو کې لاس لري، نو وسله یې راپورته کړه او په ټول هیواد کې یې په پاڅون لاس پورې کړ، د دې ملي قهرمنطقي نتیجه د ۱۸۴۱ع کال د نوامبر د دوهمې نېټې ملي پاڅون وُ چې د کابل او شاوخوا خلك د ملي مشرانو تر قومانده لاندې را پاڅېدل، د خپلو لاسونو په وسله یې بالاحصار تر اور لاندې ونیو او د هېواد پاکه خاوره یې د دښمن تر پښو لاندې په اوربد له کړه.

هُدا راز له هغې ورځې نه چې روسانو د ۱۳۵۷ لمریز کال (۱۹۷۸ع) د غویي د کودتا له لارې خپل نوکران واکمنې ته ورسول او زمونږ پر پاکه خاوره یې غیر مستقیم تېری وکړ او زمونږ سیاسي سرنوشت یې تر لاسه کړ. افغانانو موضوع له درك سره سم ټوپك ته لاس کړ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

محلي قيامونو وړو- وړو د ملي پاڅون بڼه غوره کړه، عسکري اوملکي پاڅونونه وشول او د روسانو پر استعماري اداره وژونکي او درنې ضربې وارډې شوې، په ۱۹۷۹ع کال کې پر افغانستان باندې روسيانو فوځي سله وال تېری د عمومي انقلاب سبب شو چې وړځ په وړځ يې لمن پراخه اوبرې يې د توجه وړ شول او اوس لکه څرنګه چې د ۱۸۴۱ع کال د نومبر په دوهمه نېټه چې کابل د مجاهدينو تر محاصرې لاندې ؤ، دا تاريخي ښار د اسلام او وطن دغازيانو تر زړورۍ محاصرې لاندې راغلی دی.

د شاه شجاع په دوره کې هم دولتي اداره او افغاني عسکر د انګريزانو په خدمت کې وو او اوس هم هداسې ده؛ په هغې وخت کې هم دې خوار ساتل شوي خوهغه وخت اود پياوړي ايمان په وسله سنبال ملت خپله تيره توره خپل دښمن ته ويښوده او اوس هم.

هغه وخت هم د شاه شجاع بادارانو، برعکس اوس مکناټن د مجاهدينو د تېرې تورې له لاسه يوپه بل پسې دجهنم لاره ونيوله او اوس هم د ببرک بادارانو بريژنيف اندروپوف او چرينکو د مجاهدينو د ميرانې او نه باور کيد ونکو بريو له امله ډېره چاودي د دوښخ کنډې ته روان شول.

د انګريزانو په ځاوند کې هم هغه ټول انګريزي عسکر چې د لته بند له لارې نه کابل ته راغلي وو په هغه لاره کې جهنم ته ولېږل شول او اوس هم هغه روسي عسکر چې د سالنامې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تونسل له لارې کابل ته راغلې په همغه لاره کې جهنم ته لیږل کیږي .

د افغان او انګریز په لومړۍ جنګ کې د برنس اوکمپاین تر وژل کېدو وروسته د شاه شجاع دوژل کېدو وارهم راوسپد او اوس هم د بریژنیف او اندروپوف تر زېرې چاودې کېدو او جهنم ته تر رسېدو وروسته د ببرک تر ارعل دوژل کېدو موقع رالنډ شوې ده .

د شاه شجاع د پرامې په پای کې بیا هم شاه شجاع د امیرانه وکړه چې د انګریزانو له هغه قرارداد نه پې غاړه وغزوله چې له ملي مجاهدینو نه پې ژمنه اخیستې وه چې انګریزان به شاه شجاع له ځان سره بیایي او افغانستان به ده ته په برتانوي خاوره کې معاش ورکوي اوپه مقابل کې به دوی امیر دوست محمد خان بیرته افغانستان ته راستنوي خو شاه شجاع ددې تر ټولو په خلاف له انګریزانو سره تر تلونه په افغانستان کې وژل کېدل تر ترجیح ورکړه اوهدلته د مجاهدینو په لاس د خپلې لوپې ګناه په کفاره کې ووژل شو خو له ببرک سره دا شجاعت هم نشته چې دا تر روسانو له افغانستان نه پښې سپکولو ته ارشي تر دې به روسانو ته زاړه کوي چې تر ځان وروسته د ماله افغانستان نه وباسي خو وخت به تر وخت تېر وي او روسان د خپل تحصیل له مخې مغلوبان په نیمه لاره کې پریږدي نو بیا به دوی تر پې حې او ببرک به جبراً مجاهدینو ته پریږدي اوبیا به هم د تیښتې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغو سره د شاه شجاع په سرنوشت اوري او د مجاهدینو په لاس به د دوزخ کندې ته غورځول کېږي .

په نتیجه کې باید وویلې چې پر افغانستان باندې د روسانو لومړۍ تېری همغه لارچې یوه نیمه پېړۍ وړاندې د انګریزانو لومړی تیری وهلی وه ، په څه کې لري او موږ د اسې ورځې ته ستر کې په لاریو چې د دې دوو تېریدو پیل اوپای ټکي په خپل تاریخ کې سره ونښلو و او د راتلونکو تیري کوونکو له پاره یې د عبرت دیوه لوی درس په توګه پرېږدو!

هو! د اوږدې دېرې لنډه اوښتدې ده څکه چې لوی خدای ﷻ د حق او حق پالونکو ملګری دی :

لاتر اوسه یې ماغزه په قرار نه دي
چا چې ما سره وهلی سر په سلامت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهمه برخه:

د افغانستان د تاریخ دوې پاڼې

چې

د هرې پاڼې یوې توره اوبل طلایي دی

د انګریزې چاپي زور دلته اوبه شو
په زرګونو ډیترازینو لښکر دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

لومړی پاڼه

په ۱۹۳۸ کال پر افغانستان باندې د انګریزانو

لومړی تېری

او د ۱۸۴۱ کال د نوامبر په دوهمه نېټه د افغانانو

ملي پاڅون

په نولسمه پېړۍ کې په افغانستان کې د اقتدار جنګونواو د واکمنې کورنۍ ،کورنیو شخړو د افغانستان هغه پیاوړې ستروالي (امپراتورۍ) چې لرې احمدشاه بابا یې بنسټ ایښی و ډېره کم واکه کا واکه اوبې ځواکه کړه او ددې ټرمینې پر اړه کړه چې د روس او انګرېز ښکېلاکګرو ستروالي افغانستان د خپل استعماري رقابت صحنه وګرځوي .

انګرېزانو ته د قدرت د ویښې شاه شجاع پناه ور وړلو روان حالات داسې وڅرخول چې انګرېزان تر روسانو وړاندې شي او

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان په لاندې کولو سره د آموسیند ترشنه و پورې
ځان ورسوي ؛ د ۱۸۳۸ع کال په جون کې له فرارې شاه شجاع
سره د لاهور مثلث ترون کول ددې تجاوز عملي پیلامه وه ؛
انګریزانو دیوې اعلامیې په ترڅ کې امیر دوست محمد خان په
دې توګې کمپنۍ ګویا دروس په مرسته له افغانستان سره
د « پښتور » بیاترلې غوایې، دوی په دې اعلامیه کې « بارکزی » سردارانو
د حکومت « غاصبین » وبلل او د افغانستان واکمني یې د « سدوزیو »
« قانونی حق » بلله ، د « بارکزو » په وخت کې یې د افغانستان
وضعه « کده وده » وښوده او په اعلامیه کې یې ژمنه کړې چې د اګدو یې
هغه وخت له منځه یوسي چې شاه شجاع د انګریز په پرځې مرسته بېرته
په خپل « موروثي تخت » کښېنول شي او په دې ترڅه به د برتانوي
هند « تمامیت » تأمین او د افغانستان د ملت « اتحاد » به ټینګ
شي .

د همدې منطق په بناء انګریزان پرافغانستان باندې
د تېري په تیاري بوخت شول ، د سفربري امریې وکړ،
د شاه شجاع په لاسلیکې یې په افغانستان کې زیات شمېر اعلانیې
نشرکړې چې پکې ویل شوي وو: د افغانستان د سلطنت حقیقي
او شرعي وارث « اعلیحضرت شاه شجاع د غازي احمد شاه بابا لمسی د
اومحمد زایي وروښه د تاج او تخت غاصبان دي نړوادی د افغانستان
« اصلي پاچا » له « خپل لښکر » سره د خپل پلرني تخت د نیولو
په نیت خوځېدلی دی او د هندوستان د انګریزي حکومت

(c) ketabton.com: The Digital Library

لښکرې چې دی پې دروند مېلمه ؤ دده په ملتیا کې ورسره روانې دي شوپه خپل پلرني تخت باندې دده «جلوس» وویني او «مبارکي» ورکړي بیابه دا دوست لښکر بېرته له افغانستان نه ووزي اوهند وستان ته به راغبرګ شي .

له شاه شجاع سره داروان «مبارکي ویونکي» «دوست» لښکر چې توله شپه پې خلورپنځوس زده یوسل اوپنځوس تنه کېده اواویا توپونه اود وخت مدرنه اوقوي وسله ورسره وه ، له بشپې و څخه یزاتو سره راروان شو ، پتېل شوې وه چې دا «محدودې قواوې» د خیبرله لارې ننګرهار او د سیند او بلوچستان له لارې کندهار ته ننوزي . د سیند له خوا راروانې قواوې د ۱۸۳۹ع کال د جنورۍ په شلمه نېټه د سند د سیند څنډو ته راورسېدې ، په فروري کې ترسیند راپورې وتې اوپه بنګاړپور کې له شاه شجاع سره یو ځای شوې ، په افغانستان کې د انګریزانو اصلي پاچامکناټن چې ظاهراً د انګریز د سفیرپه توګه ؤ ، ورسره ؤ .

د خیبر له لارې راروانې قواوې هم یوازې نه وې د شاه شجاع زوی شهزاده تیمور ورسره وچې په دېره اعزاز پې راوان کړې ؤ .

انګریزانو په خپل دې پروګرام کې هغه درلوده داسې ونبیي چې شاه شجاع د افغانستان «خپلواک» پاچا دی او ورسره راغلی انګریزي لښکریې ترفرمان لاندې اوشي ورځني مېلمانه دي . له هغې امله دوی په کندهار کې د شاه شجاع د

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاج پوښې په وخت انګريزي عسکر په داسې ډول د شاه شجاع په ملګرتيا کې تېر کړل چې انګريزي بيرغونه يې د « احترام » په توګه خوښ ښکاره وو اوکله چې دې پرلخت کښېناست دده په درناوي کې يې د توپونو (۱۰۱) ډزې وکړې ، بيا نو د انګريزي لښکرو قوماندان جنرال کين اوپه افغانستان کې د انګريز سفير « مکناټن د پاچا « حضور » ته ورماندې شول اود انګريز د حکومت په نمايندګۍ يې مبارکه ورکړې ؛ په ختيځ افغانستان کې يې هم هداسې وکړل ، شهزاده تيمور يې چې د زېږنې جاې يې اغوستې وې په وړينو مسند کښېناوه ، دواړو خواؤ ته مأمورين اوعسکر د « احترام » په ډول ودرېدل او انګريزي افسرانو مبارکه ورکړې ، داد انګريزانو د ښادۍ د پردې ملګرو يوش وُ ؛ ددې نو شا يې جوماتيس خوره کړل ، پيسې او آوازې يې خپرې کړې ، د کابل د پاچا امير دوست محمد خان د واکمنۍ د نا مشروعې په برخه کې يې د خلکو ذ هنونه « تنويرول » غوښتل ، مشران اوځوړ خانان اونږم لرونکی کسان يې په شاه شجاع راټولول ، خوک چې په پيسو او دسيسو وغولېدل راټول اوچاچې مقاومت کاوه له منځه يې وړل .

انګريزان په داسې حال کې چې شاه شجاع يې په ملګرتيا راروان وُ د ۱۸۳۹ع کال د اپريل په ۲۵ مه نېټه کندهار ته ننوتل او د حکومتي قواؤ له جزوي مقاومت نه وروسته يې کندهار تسخير کړ ، دمې په اته نېټه يې د شاه شجاع تاجپوشي ترسره کړه او نزدې يوه ورځ پخوا يې د افغانستان پردې خودمختار (!) پاچا

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو اوه فقره اینترون لاسلیک کړي چې په هغه کې مثل شوې
وه ، انګریزی مېلمانه عسکریه دتل دپاره په افغانستان کې
پاتې او لګښت به یې د افغانستان له خوا ورکول کېږي ،
افغانستان به له بل یوه اروپایی هیواد سره م روابط نه لري
اوتجارتي چارې به یې هم د انګریزی دولت د ایلچی په خوښه
ترسره کېږي ..

پرنګیانوله خپل لاوارد کړي پاچا سره په کندهار کې تر دوو
میاشتو تېروسو وروسته دکابل په لور دراتلو اراده وکړه ، په .
کلات کې غلجیو خوږې وړې حملې پرې وکړې اوکله چې غزني
ته راغلل له تړلیو دروازو سره مخامخ شول ؛ غلجیو شا له خوا پرغل
پرې راووړې ، دوی سنګرونه جوړول او لا بریدې نه ډکړې
خوشاه شجاع په بیره د انګرېزقواوو وواستولې او غافلګیرې کړل ،
غلجی غازیانو یوه برخه شهیدان اویوه برخې اسیرشول
چې دا اسیران هم د انګرېزانو د کمپ په مخه کې د قربانۍ د پسونو
غوندې حلال او شهیدان شول ، انګرېزانو غوښتل دې وحشت
له لارې افغانان وویروي چې « تسلیم » شي او له جهاد نه لاس
واخلي . له انګرېزانوسره دغزنۍ بنار د تېنګې کلا د تسخیر
توان نه وُ ، سردارغلام حیدرخان بشپړنظامي ترتیبات نیولي
وو خودوی له یوه بل سردار عبدالرشید نومې نه استمداد
وکړه ، دهغه دخیانت له امله یې دغزنۍ بنار کابلی دروازه دشپې
له خوا والوزوله ، انګریزي قواوی کلا ته ننوتلې ، په بنار کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دننه کوشه په کوشه د لاس اوکړیوان جنګ پیل شو تر دوولس سوو زړیات کسان شهیدان شول ، جنګي بندیان یې شاه شجاع ته ورډوستل خوله مخالخ کېده و سره یوه بندي پرې غږ کړ : « دپرنګي نوکره ! » اوله دې سره ټول بندیان خلاص کړای شول .

امیر دوست محمدخان په ارغنده کې له خپلو عسکرو سره ناست ؤ اود « څه به کېږي ؟ » انتظار یې یوست ، کله چې په غزني کې د انګریزانو له وحشت نه خبرشو په دې تلوالیتوب یې عسکر پرېښودل اود اوښ د کوتل له لارې د بامیان اوخلم په لور روان شو او « ترپ » ته یې په « خرپ » ترجیح ورکړه ، کابل یې واکمنۍ شو او انګریزان له خپل راوستلي قولواك (؟) سره په کابل ننوتل او د بالاحصار په ارګ کې یې په بشپړه خاطرجمعي واړول . د کابل خلکو لاس پوښي پاچا ته په کرکه ، نفرت او حیرت کتل او انګریزانو هم چې ځان پر افغانستان « مسلط » کنلی ؤ نور یې د شاه شجاع - ظاهري نازول او پاچا - پاچا کول هم پرېښودل اوپه دې ډول یې اعتنایي یې مستقیماً په حکمرانۍ لاس پورې کړ او مکاتبې نور په افغانستان کې « سفیر » نه بلکه « قولواکمن » ؤ .

انګریزانو په افغانستان کې د خپلې دایمي استوګنې په غرض په نظامي تأسیساتو اود قشلو په جوړولو لاس پورې کړ اویو شمېر اضافي قواوې یې په دې نامه چې موږ علاً له افغانستان څخه وتو ببرته وایږلې اودخپل واك اوځواك په استحکام یې لاس

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورې کړ .

له بلې خوا افغانانو د خپل حصلت له مخې خپل دښمن په خپل کور کې نشوی لیدلی ، د هېواد په کورت - کورت کې ګنګوسې وې ، د تېښتې تیاری نیول کېده او د پاڅون ، د ملي غورځنګ او د ملي یون .

ددې لوی قیام لومړنۍ خبرې هاغه وار محلي اوخواوه واړه یرغلونه وو چې د کندهار - کابل پرلاړه پر شاه شجاع او ددې پر دوستې لښکر د کلات غلجیو پیل کړل ، په غزنۍ کې خلکو مېرنۍ تېښتې او مقابله وکړه اوکله چې شاه شجاع (!) اوددې باداران په کابل کې استوګن شول د زرګلي خلک پاڅېدل چې په وحشت سره وکتل شول ، بیا چې خپلواک (!) پاچا تنکرهار ته یونمایشي سفر کاوه دکونړ خلکو د پاچا اوددې د دوستانو پرضد پاڅون وکړ چې د تورپوز په خوله غلی کړای شو ، ورپسې جبار خېل پاڅېدل خو انګریزانو په بیړه هر پاڅون ځای په ځای غلی کاوه د اپاڅون بې هم غلی کړ ، افغانان ددې پرځای چې د « وحشت » بې وویروي نور هم جري اوزړور شول ، خوګیانو دې بېکانه دولت تر دمالې له ورکولونه سر وغړاوه او د حصارک غلجی یوځل بیا پاڅېدل او د کابل - تنګرهار لاره یې ترتهدید لاندې ونیوله ، د اد ۱۸۳۹ع کال خواوه واړه قیامونه وو ، ددې قیامونو پایله نتیجه دا هم وه چې شاه شجاع (!) خپل ځان وپېژاند اوپوه شو چې زه « څه »م ؟ » له مجا هدینو سره یې د تماس هڅه وکړه خو انګریز تر بشپړه ځارنه لاندې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ؤ او فرمانزنه يې د انګريزانو لاسوهنه ولوېدل اويله نتيجه يې داوه چې په ۱۹۴۰ع کال کې ددې قيامونو لمن ډېره خوره شوه د حصارك د غلجيو جبهه پياوړې پاتې شوه اوپه خوږه کابل کې يې ډيوه بريد په ترڅ کې د انګريزانو لوبه قوه تس نس کړه، همدا وخت د کوهستان اوښتراو خلك هم راولاړ شول اود جهاد ملاوې يې وتړلې، د کندهار خلك هم پاشېدل او انګريزي فرمانداري يې ووازه .

هلته امير دوست محمدخان بخارا ته تر تېښتې وروسته بېرته شمالي ولايتونه راغبرګ شو او خلکو په ډېرانه ملاتړ ورسره وکړ، له کندز نه له پنځه زره لښکرسره بلخ ته روان شو، له هلم نه هم پنځه زره لښکر ورغې، لښکرې له انګريزانو نه ماته وخوړه خو پاچا د کوهستان اوکا پېسا مجاهدينو په بلنه شمالي ته راغې دلته زړه ورو مجاهدينو د ملي رهبر (!) په توګه وهانه او له انګريز سره بريالي جنګ روان ؤ، انګريزانو په جنګ کې شرمېدلې ماته وخوړه خو پاچايي ناڅاپي د جنګ له مېدانه ورک شو، له خپل باوري دوست سلطان محمدخان سره د کابل په لور روان شو، د ۱۸۴۰ع کال د نومبر په څلورمه نېټه کابل ته ورسېد، ماندېکر مېمال ؤ، مکناټن له بنګاړ نه ارګ ته راوتلو ؤ چې د پاچا ملګرې سلطان محمدخان ورغې او ورته وې ويل: « امير دوست محمدخان راورسېد! » مکناټن په وارخطايي وپوښتل « له لښکرسره؟ » ده ويل: نه! » . امير ورو راندې شو،

(c) ketabton.com: The Digital Library

مکناتن ته ورغاړه دوت او قصرته له ننوتلو وروسته یې
خپله توره مکناتن ته تسلیم کړه چې بیا تر معاهدو او مفاهمو
وروسته هندته واستول شو ؛ د شمالي جاهدین د پاچا په ناڅاپي
ورکېدو پریشانه وو خوکله چې خبر شول : پاچا له کټلی میدان
نه دښمن ته تښته ورکړه دېر حیران شول خو پریشان نه شول
ځکه چې د دښمن ماتول اود خپل هېواد آزادی کټل یې خپل اسلامي
اومللي فرض باله ؛ دوی لکه زخمي زمري په خپل ټول قوت د دښمن
په عسکري قشله ورتری شول ، زیات شمېر یې د دوزخ مېلمانه کړل
اوپاتې تري وتښتېدل ، هدا وخت په هلمند کې هم د جهاد یوه لوبه
جبهه جوړه شوه اوپه ننګرهار کې سنګوخیل پاخېدل چې په دې
دول په ۱۸۹۰ع کال کې د جهاد لمن دېره خوره شوه اود افغانستان
په هوبرخه کې جبهې جوړې شوې .

د ۱۸۴۱ع کال شرمی له وړو- وړو قیامونو سره په آرامه
تېر شو خو په اپریل کې یې بیا قیامونه کړندې او پیاوړې شول،
له یوې خوا د جهاد حلقه لوېدله اوپه ټول افغانستان کې خوږله
اوله بله پلوه د مرکز (کابل) په لور د احلقه د تنګېدو په حال کې وه
او د انګرېزانو د تنفس لارې یې بندولې ؛ د کلات غلجیو په اپریل
کې یوځل بیا په انګرېزی قواوو بریالۍ حمله وکړه ، په جون کې د
کندهار علیزي پاخېدل ؛ انګرېزانو په جاهدینو کې د نفاق اچولو
له پاره کسان واستول خوبریالی نه شول . په هلمند کې له دښمن سره
خونړي جنګونه پیل شول ، دغزني خلکو په جولای کې د کابل-

(c) ketabton.com: The Digital Library

کندهار لاره بنده کړه او د انګریزانو یوه لویه قوه یې چې کندهار
ته تلونکې وه ، تس نس کړه ؛ د دسمبر په میاشت کې په ګردیز کې
د زاوې خلکو یو بریالی پاڅون وکړ ، په اکتوبر کې د کوهستان
او حصارک مجاهدینو په ګډه سره له کوهستان او تیزین نه
تر بتخاک پورې دا ټوله سیمه انګریزانو ته د اوږه تبې بد له
کړه ، د انګریزن ورلېږل شوې قواوې یې وار په وار له څخه یوورې
او د کابل په لور را لنډ شول ، د اکتوبر په ۳۰ مه نېټه
په بنار کې د سیاه سنګ په عسکري چوکۍ مجاهدین لاس بری شول
او نورو مجاهدین په بنار کې دننه د یوه غوڅ پاڅون په لټه کې
وو ؛ تر اوسه د جهاد مشران په خپل - خپل ځای کې په جهاد
بوخت وو ، واحده رهبري او د جهاد د لار ښودنې له پاره یې
قبلې مفاهمه نه درلوده ، مجاهدینو د دې خلا د ډکولو له پاره
هم کار وکړ ، د ۱۸۴۱ع کال د نوامبر په لومړۍ شپه د مجاهدینو
مشرانو د عاشقانو عارفانو سره لنډ په باغ نواب کې په یوه کور کې
سره راغونډ شول ؛ امین الله خان لوګری ، عبدالله خان اچکزی
او نور د جهاد مشران د عمومي پاڅون د طرحې په جوړولو وغږېدل ؛
د جنګ قوماندان ، نائب اویه انقلابي شورئ یې جوړه کړه ، د
دښمن مکتوبونه یې ضبط او مخابرې یې تر کنترول لاندې
راوستې او په لوړ تدبیر یې د قیام د بریالي کېدلو ټولې خواوې
وسنجولې اوبیا یې نوپرېکړه وکړه چې سبا به د نومبر په دوهمه نېټه
(چې د عقرب له ۱۰ سره سمون خوري) ملي عمومي پاڅون کېږي ؛

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پاک قرآن سوګند واخیست شو او سبا لمانځه مل عمومي
قیام په ټولو جوماتونو کې اعلان او له لمانځه او دعا ورسته
پیل شو ، د کابل ښار ټول دکانونه وټړل شول د « الله اکبر »
ملګرق غږونو د کابل ټوله فضا ونیوله . ، مجاهدین په خرابات کې
د برنس په کور ورغلل ، ده د پیسو او رشوت وعدې ورکړې خو
مجاهدین پرې ونه ټوپې شول ، په کودې اور پورې کړ او
خوشبې ورسته یې لکړه د کابل په څوک کې ځړول شوې وه ،
په ښار کې د انګریزانو ټولو کورونو ته اور ورته شو ، مکناټن د
بی بی مهرو قشلې ته وتښتېد ، له بالاحصار نه د انګریزانو یو کنډک
مجهز عسکر ښار ته راووتل ، ښځو له بامونو نه په ډبرو ویشتل ،
اېشپدلې اوبه یې پرې راتویولې او سنجونه یې پرې راغورځول
اوکله چې د مجاهدینو صفونو ته راورسېدل د لاس او ګرېوان
په جنګ کې دا اوه سوه کسه د پسونو غوندې حلال اودونخ
مېلمانه شول ، شاه شجاع خپل ټوی تیمور د خلکو د آرا مولو له پاره
راولېږه خو ده چې وضعه ولیده مجاهدین یې د دښمن په
مقابل کې تشجیع کړل او ځان ته یې نجات ورکړ .

انګریزانو کابل ښار له بالاحصار نه د توپونو تر اور لاندې ونیو ،
خو دې توپونو دزو د قبرېدلو اوپاڅېدلو خلکو احساسات نور
هم توپاني کړل ، داوخت د شاه شجاع د دربار افغاني کارکوونکو
هم د جهاد صفونو ته راوډانګل او دې یې یرلزې پرېښود ، ۷۸۰ تنې
ښځې هم له کورونو نه راووتلې او د مجاهدینو په صف ورکډې شوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

انګریزان د بی بی مهرو اونور وعسکري قشلونه راغونډ شول او هلته یې دفاعي جنګ غوره کړ، د قیام مشران د جماد اوعملي جنګ مشران هم وو اودښمن ته د ننګ په ډکر ولاړ .

د نومبر په درېیمه نېټه د انګریزانو دفاعي کلاوې هم بچ نه شوې اوجاهدین ترې تاوراتاو شول اود اوخت د کوهد امن ، کوهستان ، غلجیو ، لوګر ، میدان ، وردګو اوښار ته د نورو لښکرو سیمو مجاهدین هم رارسېدلي اود کابل له مجاهدینو سره یوځای شوي وو؛ د نومبر په څلورمه نېټه د انګریزانو د غلي لوی کودام اوزیاتې جنګي کلاوې مجاهدینو لاندې کړې او د نوامبر تر اوومې نېټې پورې انګریزانو ته یوازې بالاحصار او د بی بی مهرو لویه جنګي کلا ورپاتې وو .

انګریزانو د جلال آباد یا کندهار له لارې د انګریزد امدادي پوځ د راتلو انتظار درلود خو اپوځونه هم مجاهدینو د کابل - ننګرهار او کابل - کندهار په لارو کې له منځه وړي وو. انګریزانو په جنګ سربېره له دسیسو او پیسونه هم کار واخیست اود جماد لوی مشر غازي عبد الله خان اشکزی د همدې خیانت ښکار شو او عبد العزیز نوی د شالۍ خوا حمله پرې وکړه چې د نوامبر په ۲۹ نېټه داسې وخت چې د مجاهدینو مورال د تقویې له پاره په زخمي حالت کې له کوره راوتلی اوپه آس سپور ؤ شهید شو؛ میرمسجدي خان مسموم کړای شو چې د نومبر په ۲۶ مه نېټه شهید شو خو جماد غلی نشو اود نوامبر په ۲۵مه او ۲۸ مه نېټه سړار

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمد اکبرخان او محمد شاه خان غلجی د جهاد په مشرانو ور
زیات شول او د اخلاپي دکه کړه .

انګریزان مجبور وو او د دسمبر په میاشت کې چې له هرې
خوا نا امیده شوي وو سولې ته حاضر شول او د سولې د تړون
یوه مسوده یې د ملي مشرانو ته واستوله خو هغوي مقابلتاً مسوده
تیاره کړه چې له افغانستان نه یې د انګریزانو یې له قید
او شرط وتل ، افغانانو ته د درنې وسلې پریښودل ، بیاد —
افغانستان په لور دتل له پاره کابل نه کتل یې مهم تکی وو ،
مکناتن د دسمبر په یولسمه د امسوده له ملي مشرانو سره لاسلیک کړه ،
مکناتن د پرځ له شوی تړون نه غاړه غړول غوښتل او د
دسیسو له لارې یې د ټولو ارتباطونه ټینګول او د ملي مشرانو تر
منځ یې درز اچول غوښتل چې دوی بیا په پټه کې په دې صمیمیت
د انګریز نوی دسیسې سره افشا کړي او د هدې هنا قضت نتیجه
وه چې مکناتن م سرپکې وخوړ او د دسمبر په ۲۳ نېټه د مجاهدینو
د تیغ ټېر شو .

انګریزانو سره له دې چې له کابل نه د وتو تړون لاسلیک
کړی وو خو بیا یې هم زړه ته نه لوبده چې یوه لویه استعماري
امپراتورۍ دې دیوه واړه ملت له لاسه داسې شرمېدلې ماته
وخوري نو د نوو قراوو د رارسېدلو په تمه یې په وتلو کې ځنډ کاوه
خو مجاهدینو فشار پرې اچولی وو چې د پرځ یایې ووزي ، د
انګریزي امپراتورۍ حیثیت نور د خوندي کېدو نه وو ۱۸۴۲ع

(c) ketabton.com: The Digital Library

کال دجنوری په ۶ مه نېټه د کابل ځلیه پیل شوه، په
سره ژمي کې سره انګریزان په بد حال په وتلو شول، دسمار
له لمر ختلو سره یې د کابل له قشلې نه په وتلو پیل وکړ او
ترلمر لوېدو پورې یې قشله تخلیه کړه، مجاهدینو دوی
تر وتلو وروسته قشلې ته اور واچاوه او د سرو لښتو په رښا
کې تر ډېره ځایه دوی ځان ته لاره ټاکله؛ انګریزانو بیا هم تمه درلوده
چې د ننګرهار نه به انګریزي قواوې ملاتړ وکړي اوماته به یې
په بېړي بدله شي، مجاهدین پوه شول، د ورځې به یې د تړون
په اساس د انګریزانو ساتنه اوشارنه کوله خو شپې به له
خورد کابل نه تر جګدلک پورې محلی افغانانو یرغلونه پرې
کول او د دښمن عسکر به یې له مخې وړل، د جنورۍ تر ۱۳ یې
نېټې پورې چې انګریزان د جګدلک له غاښې اوښتل
د انګریزانو له اوولس زرو لښکر نه یوازې د اکثر برایدن
څوندی پاتې وو چې ننګرهار ته یې د انګریزي پوځ د تباهۍ
خبر ورسولای شو.

په دې ډول لوېې امپراتورۍ له یوه واړه او بې پاچا
ملت نه تاریخي او نه هېرېدونکي ماته وخوړه او هاغه وچې
په توله نړۍ کې یې ماته شرو شوه او یو وخت داسې هم راغې
چې دالوی استعماري بنامار زموږ له کاونډ نه هم ودتول
شو اوپه زړهاوۍ میله له موږ نه لرې ولاړ او دا مستعمرې یې
له کومې څخه ووتلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تقدیر داسې پېښه کړه چې د افغانستان بل همسایه استازې
قوت ته هم د تېرې وار ورسېد ، د ۱۹۷۸- او- ۱۹۷۹ ع کلونو په
اپریل او دسمبر کې یې پر افغانستان دوه پرلوېن تېری وکړ . پر
افغانستان باندې د انګرېز لومړی تېری او د روس
لومړی تېری د زمانې په لحاظ څه کم یوه نیمه پېړۍ فاصله لري
خو پېښو تسلسل یې تر یوه ځایه سره ورته دی او د تاریخ د
تکرار بڼه یې غوره کړې ده نو ځکه موږ د انګرېز د لومړي تجاوز
پاڼه هدلته رانغاړو او د موضوع د بشپړتابه له پاره د روسانو
د لومړي تېرې پاڼه راګرځو او په تېرېږن کې یې مطالعه کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوهمه پاڼه

په ۱۹۷۸-۷۹ع کلونو کې پر افغانستان باندې د روسانو دوه پراویز تپري او د افغانانو ملي پاڅون

په شلمه پیړۍ کې هم کورنیو شخړو، اغتشاشونو او واکمنې کورنۍ د اقتدار رقابتونو د افغانستان هغه ځوانسه خپلواکي چې د لوی خدای ﷻ په مرسته، د اعلیحضرت امان الله خان په اراده او دملت په همتونو لاسه شوې وه له خپل اصلي هسیرنه وایستله، افغانستان بې ډیرو بل محتاج کې، د اقتصادي او فرهنګي سنګپلاک لاسونه له هرې خوا را وبنده شول، زمونږ خپلواکي تش په نوم پاتې شوه او ددې زمینه یې برابره کړه چې افغانستان د شرقي سنګپلاک کوډي ته ورتېل وهل شي.

د اوخت د هند او پاکستان په آزادېدلو اوجوړېدلو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

انګریز زموږ له کاونډ نه تللی دی اوهم د عربی استعمار ځنکښې
د امریکا په لاس کې وه ؛ امریکا له روس سره د نړۍ د
ویش (۱) په طرح کې افغانستان د خپلو ګټو له ساحې څخه ایستلی
دی اوله بلې خوا د روسانو سره اوخوږې ښکېلاک زموږ په
پوله ولاړ دی ، له غیرملي حکومتونو سره یې د دوستۍ په جامه
کې تړونونه کړل ، د اقتصادي ، فرهنګي او نظامي ډېلو ډېلو
تشبثاتو له لارې یې په افغانستان کې ځان تینګاوه ، له یوې
خوا یې زموږ عسکري ته لاره وکړه اوله بلې خوا یې په ۱۳۴۳ش/
۱۹۶۵ع کې د « خلق » دباندې په جوړولو سره زموږ په هیواد
کې یوه پخه سیاسي اډه جوړه کړه ، که څه هم د « خلق » باندې
له ملت نه تجرید دی خو د روس په مالي او ملي سپوتې تاداو
پوخ شو او د بې تجربې خوانانو په مغزونو کې یې ریښې وغځولې
لکه څرنګه چې د ښکېلاک قانون دی په یوه امسا تکیه نه کوي
ځکه کېدی شي چې ورسته شي او اتکاء یې له هغۀ ولاړه شي
اوهم ښکېلاک په یوه هیواد کې دوې رقیبې ډلې یا کسان ساتي
څو دواړه په رقابت سره یو تر بل بنې غلامۍ ته حاضر شي او
هم د قدرت په وخت کې یو په تخت کېنوي او بل له ځان سره
د ذخیرې وساتي اوکه پر تخت ناست غلام غاړې غږوله او یا یې صادقانه
غلامي نه کوله نو په دې ذخیره غلام یې د فشار د قوې په حیث
وویروي او یا یې هم مستقیماً پر ځای کېنوي . دا کار په نړیواله
پیمانه کې انګریزانو هم کړی دی ، د امیر دوست محمدخان د واکمنۍ په

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت کې شاه شجاع د انګریزانو په غیږ کې وُ او بیا چې کله
شاه شجاع پر تخت کښېنول شو نو امیر دوست محمد خان پې په غیږ
کې ورته کښېنولی وُ. روسانو هم دیوه هدف له پاره په
۱۳۴۵ / ۱۹۶۶ع کال د خلق ډلې بانډ پر دوو برخو «خلق» او «پرچم»
وویشه، د پرچم پالیسي پې داسې وټاکله چې له حکومت سره
هم لاره ولري، ببرک به له یوې خوا ظاهر شاه ته هترقي پاچا وایه
اوله بلې خوا پې خپل بانډ له محمد داود سره ملنډ کړ او د هغه تر
بشپړ حمایت لاندې راغی، سردار داوُد د ۱۳۵۲ ش ۱۹۷۳ع کال
کودتا د هدوی په ملاتړ وکړه او پرچیان د وزارتونو پر خوکیو-
کښېناستل او خصوصاً د کورنیو چارو د وزارت له خوا د اسلحې
په سلو کې نوی خوکې هدې پرچیانو ته وسپارلې شوې، پرچیانو
د رشوت اخیستلو او نورو فجایعو له لارې د سردار داوُد حکومت
د بدنام او د خلکو نفرت پې تر پې پیدا کړ، دا د روسانو له خوا
ورسپارل شوی پروګرام وُ؛ داوُد د پرچمُ له خلکونه تجرید
او د عام نفرت وړ شو خو کله چې داوُد په ځان پوه شو او غوښتل
پې چې له دې دام نه غاړه خلاصه کړي، روس د خپلو ذخیره
ایجنټانو په وسیله په بېرغي او عاجل ډول د خلق او پرچم بانډونه
سره یو ځای کړل او د دواړو د کډمل له لارې پې د یوې خونړۍ
کودتا طرح وکړه، روس په دې لوبه کې د پردې تر شا هرڅه مهیا
اوچمتو کړل او د پردې پر مخ د ۱۳۵۷ کال د ثور په اومه نیټه
(د ۱۹۷۸ع کال اپریل) خلقیانو او پرچیانو خونړۍ کودتا

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیل کړه او څرنګه چې له یوې خوا د سردار داؤد حکومت له خلکونه تجرید ؤ ، له بلې خوا پې ایډیالوژۍ او پې خاصیته ؤ ، له بله پلوه ډیمې چارې د پې کفایته کسانو په لاس کښې وې او له بلې خوا داؤد د پر مغرور اوپه ځان غاوړه ؤ ؛ په یوه وخ کې پرې بریالي شول اوپه دې وسیله د روسانو پر افغانستان باندې په ۱۹۷۸ع کال کې خوښۍ خو غیر مستقیم ټرې وکړ .

د روسانو پر افغانستان باندې د دې په زور ورتیل شوي حکومت ترکیب په داسې دول راغړ ته کړ چې د قدرت توله د خلقیانو لورته درغه کړي او د خپل استعماري پلان له مخې پرچمیان د اقتدار جنګ ته اړ باسي ؛ ببرک له دې وېش نه ناراضه شو او یوځل بیا پې له خلقیانو سره ډبمې رانوې کړه او د روسانو د ترسره شوي هدف له پاره شوی اتحاد ګډوډ شو ؛ په همدې حالت کې روښنا ببرک له افغانستان څخه د سفیر په جامه کې وویست او د سفارت تر سره غلا وروسته پې په خپل څنګ کې کښېناوه ، دا د روس له پاره خلقیانو ته د فشار ډېره ښه قوه وه ، که ترې کې او امین به ډبمې غلامه دول نه لوباوه نو برېژنیف به د ببرک سر له ګریوانه ورته راونیوست او دوی به پې د رقابت په دنیا کې هر دول غلامه او لکه وهلوته اړ کړل . خلقیانو د روس له قوماندې سره سم پرسانچ وحشت وکړ ، قتل عامونه پې وکړل ، په لسها ؤ زره بې ګناه افغانان پې ووژل ، کلي او بنارونه پې ویران کړل او په نتیجه کې خلکو ملي پاڅون پرې وکړ او په څو میاشتو کې د خلقیانو تر نیمایي ډېر یات

(c) ketabton.com: The Digital Library

عسکر او منصبدارانو مړه ، د خلقیانو حزبي غړي مردار او د هیواد زیاتې برخې آزادي شوې وه وخت له یوې خوا خلقیان د سقوط په پوله ولاړ وو ، له بلې خوا به د امین خودخواهي کله-کله د بې اجازې غپلو له پاسه دې مخامخ او له بل لوري د خلق د غلامۍ دوده سرته رسېدلې او د لاس پاکولو دا دسمال نور زور شوی وُ .

د پېښو په نتیجه کې د شاه شجاعي تاریخ بیا تکرار را رسېدلی وُ ، روسانو له فراري ببرک (کیدې) سره افغانستان ته د روسي لښکرو د راننوتلو قرارداد وکړ ، پروګرام داسې وُ چې روسان به د انګریزانو په خلاف له ببرک نه وړاندې افغانستان ته ننوتلې امین خاین به را نسکور وي ، عسکري قشلې به مینسي ، رادیو به لاندې کوي او بیا به ببرک د روسي له رادیو نه خپل حکومت اعلانوي په همدې حال کې به د روسي د رادیو موجونه د افغانستان له رادیو سره یوکیږي او داسې به ښودله کیږي چې ګویا ببرک د افغانستان له رادیو نه غږیږي خو دا نقشه هم خدائ رسوا کوله ، روسان د ترکي او هوا له لارې افغانستان ته را ننوتل ، امین پې مردار کې خو عسکري قشلې پې لا بشپړې نه وې نیولې او د افغانستان رادیو لا عادي خپرونې کولې او امین د واکمنې خبرونه پې نشرول ؛ په همدې وخت کې ببرک له تاکل شوي پروګرام سره سم د مسکو او تاشکند له رادیو ګانو نه خپله وینا نشر کړه ، امین پې نسکور شوی وبالله اوخان پې د انقلابي شورا (!) او د دولت مشر (!) اعلان کړ خو په همدې دقیقه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان راډیو د امین د حکومت خبرې کولې او د روسانو دا پلان هم رسوا شو.

هو! د ثور ترخوږې کودتا وروسته چې هوښیارو روسانو غیر مستقیم تېری وکړو، روسانو د ۱۳۵۸ ش (۱۹۷۹ ع) کال د جدی په شپږمه نېټه پر افغانستان باندې مستقیم، بربنډ او له پټو قوانینو او موازینو نه خلاف تېری وکړ، د دوی ترسل زرو زیاتو لښکرو پر افغانستان را وا وښتې او له شا نه یو وطنفروش ثانی شاه شجاع ببرک تزار مل پسې را روان کړ.

روسانو هم لکه انګریزانو چې امیر دوست محمد خان له روس سره په مرسته نومتی کړی وو، امین له امریکا سره په مرسته نومتی کړ؛ دی یې د «سی، آی، اې» ایجنټ وګاڼه او زیاتیږه چې که روسان افغانستان ته نه وی راغلی نو امین به افغانستان امریکایانو ته حواله کړی وو (؟) او بریژنیف خو واضح وویل چې: «د اجنبی وګاونډی تجاوز دی او هوښیار افغانستان ځکه نیولی چې روسیې ته د امریکې له خوا خطر متوجه وو»؛ روسانو دخپل بې شرمانه تېری له پاره یو بل پروټوکول هم ور واغوست او هغه دا چې هوښیار د افغانستان د قانوني حکومت (؟) په بلنه (؟) راغلي یو خو کلمه چې تري وپوښتنه وشول: د کوم قانوني حکومت په بلنه؟ ځکه که امین راغوښتي وای نو امین ځان در باندې واژه؟ او که ببرک دا کار کړې نو ببرک خو هغه وخت یو فراری وو او د هیڅ ترون کولو صلاحیت یې نه درلود؟ دوی بې ځوابه وو خو ببرک

(c) ketabton.com: The Digital Library

څومیاشتې وروسته په سپین ستر کې وویل: زه د امین تر هرڅ څو میاشتې وړاندې کابل ته راغلی وم، له کوم سره په تماس کې وُم او د کوم غړو دا فیصله(!) کړې ده!دادی د تجاوز له پاره یو داسې شیرې پرتوک چې ترڅنګ زیات پې هرڅه تر پې بنکاریږي!

تر دې وړاندې روسانو خپل تر لاس لاندې د تره کی او امین کوډاګي حکومتونه په افغانستان کې د عدل او نیا و سمبولونه بلل او د دوی تل فجایع پې د "امپریالیزم تبلیغ" ګانه، خو دیوې نوې لوبې له پاره سکوت مات شو او د روس نوې کوډاګي ستر کې پتې او خوله خلاصه کړه، په دې غلط فکر چې کوی ځان به په خلکو ومني د امین په افشاء کولو پې لاس پورې کړي او د روس د تړلو سپو خلقیانو د فجایعو نه پې د اسې پرده پورته کړه:

"(حفیظ الله امین) چې د افغانستان استقلال له خارجي ارتجاع سره په سودا کې واچاوه او زموږ د زرهاؤ ملیونو سره سم ثروت پې چور او حیف او میل کړ، د افغاني غیرت او ننګیالو خلکو غیرت، شرف او ناموس پې تحقیر او توهین کړل؛ د تل له پاره زموږ د کران هیواد د ثروند له صحنې نه ایسته کړای شو..."

ده په یوه بله علامانه ویناکې وویل: "که... د افغانستان د شجاع اردو فداکاره او د شورويو دوستانه او بې شایبې مرستې نه وای نو د غوایه بریالی انقلاب به خپل نوی پړاوته نه وی منتقلی او نن به نه یواځې په افغانستان بلکه په منطقه کې یوه لویه تاریخي فاجعه منځ ته راغلې وه، د اډرامانتیکه اولویه فاجعه د امین د باندې په وسیله

(c) ketabton.com: The Digital Library

د امریکا د استخباراتي اداري سي. آی. ای، د پیکن درهري د توطیې، د منطقې د ارتجاع، د سادات؛ اسرائیلو او د نورو ارتجاعي ځواکونو سره په ټرون اوکدون، طرح شوې وه، چې د هغې له مخې یې د افغانستان نیم اوسید ونکي له مخه ورل، د هیواد خپلواکي، ملي حاکمیت او ارضي تمامیت له مخه ورل کیده او حتی د ایران اسلامي نهضت چې د آیت الله امام خمیني په وسیله مخ ته راغلی، کوتل کیده او په سیمه کې ترچیلي نه لویه فاجعه پیښیده له (؟)».

ده لکه شاه شجاع غوندې د روسانو د وحشي متجاوزو لښکرو په باب وویل: «د شوروی د وسله وال پوځ محدودې قطعې (؟) چې د افغانستان .... د دولت په قانوني غوښتنه (؟) د بهرنیو وسله والو تېریو د دفع او له مخه ورلو او زموږ د هېواد د خپلواکۍ د حاکمیت او خاورې تمامیت د ساتلو له پاره افغانستان ته راغلي دي.... تر هغه وخته به دلته پاتې شي چې د افغانستان نه د بهرنیو لمسونې، لاس وهنو او تېریو کوچنۍ اغزه ورکه او له مخه یوړل شي او ټولې بهرنۍ لمسونې، لاسوهنې او تېري د بندولو له پاره ربښتیني او معتبر تضمین تأمین شي».

ده په هغو لسهاو زرو شهیدانو هم د مکر تماسې اوښکې توې کړې چې خلقیانو د روسانو په قوماندې او وسله شهیدان کړي وو، د دوې فاقې (؟) یې واخیسته او په یوه ویناکې یې په پوره بې شرمۍ وویل: «.... تر هرڅه وړاندې اجازه راکړئ چې د افغانستان د دیموکراتیک جمهوري دولت او حکومت د سیاسي کړنلارې تر وړاندې ګواښونکي د

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوند د مرکزي کمیټې ... د انقلابي شورا او حکومت او زما یو رنګ کار دی له خوا چې ډوډۍ خواشینی او لوږې خواخوږی او درنا وی ... د هغوی پایه اوښکو اوپه وینو کګډوا اوښکو په مناسبت تاسوته وړاندې کوم چې د حبس او زندان، جبري مهاجرت او تبعید، وحشیانه اوغیر انساني نجر او شکنجې او زهوبد لسهاؤ زړو میندو، پلرونو، ورونو، خویندو، لونو، زامنو، ماشومانو د دسته جمعي شهادت او وژنې له املې چې د حفیظ الله امین میرغضب له خوا او د دې انسان وژونکي جلاد په مستقیم امر را منځ ته شوي دي.»

هدا راز لکه څنګه چې شاه شجاع خان د ملت ضد کاپه هدا سې یوه وینا د یو رنګ له خولې م و ته: «په خواسینې سره باید وواېم چې سره له دې چې رهبري د کارګري طبقې او ټولو زحمتکښانو په لاس کې ده خو زموږ د دولت د اداري ماشین لاتر اوسه تر ډیره حده د خلکو په ضد دی.»

پر افغانستان باندې د روسانو له دې تېري سره د اصل د ملت د نوی ولاړه ډنې او پاڅون ضرورت نه دی، د افغانستان ټول ملت په تېریږه نیم کال کې له خلقیانو سره د هیواد په ډیلو ډیلو برخو کې جنګیدلی دی، خای په خای یې د خلقیانو لوی - لوی پوځونه له منځه وړي او ډیره ډوسې وسله یې تر لاسه کړې وه؛ د کیرا یې قتل عام، د هرات قتل عام، د ننګرهار او د مزار د هدادی د فرقو د بالاحصار د قشلې او د ریشخور د عسکري قیامونو کې قتل خلقیانو په وحشت سره تر سره کړي وو. د نورستان، کونړ، خوږانو، وردګو، بامیانو او نورو زیاتو سیمو قیامونه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوي وو او مجاهدين وسله په لاس په سنگرونو کې ناست وو؛
د روسانو تبري د جهاد ساحه نوره هم پراخه کړه ، د ۱۳۵۸ ش
(۱۹۸۰ع) د دلوې په میاشت کې په هرات او کندهار کې بناریان
راولاړ شول او په شپږ- شپږ یې د « اللّٰهُ اَکبَر » مقدس او
ملکوتي غږونه لوړکړل او حکومتي تاسیساتو ته یې اور ورته کړ.
په کابل بنار کې هم د هُدې کال د کب په درېیمه نیټه له ټول ښار
نه د اللّٰهُ اَکبَر آسمانی غږونه پورته شول د شیګردی فیتود یې
مات کړل ، د پولیسو له ماموریتونو نه یې وسلې تر لاسه کړې
او سمدلاسه دوخته په ټول بنار کې مظاهرې راووتې ، دوکانونه له یوه
سره وتړل شول ، د « اللّٰهُ اَکبَر » چیغې پورته شوې ، د روس مرده
باد ، ببرک مرده باد ، روس دې زموږ خاوره پریږدي ! شعارونه
ورکړل شول ، دولتي ودانۍ او موټرونه اور واچول شو اوروسانو
په دې وارخطایۍ تانکونه راوایستل ، پرچیانو د خوانانو په شهید انولو
لاس پورې کړ ، الوتکو الوتنې پیل کړې او د ورځ ګردی فیتو دولګیدل
جمعې زندانونو خولې خلاصې کړې اوپه زرهاؤ افغانان ور واچول شول
بندیان په شپږ- شپږ وړې وساتل شول ، په برقي ډنډو ووهل
شول اوراز- راز زخمونه ورکړل شول خود اللّٰهُ اَکبَر په ملکوتي
غږ پیل شوی قیام د هرې شپې دوامدار پاتې شو ؛ د ۱۳۵۹ کال -
(۱۹۸۰) په پسرلي کې د پوهنتون او لیسو ځوانو او هلکانو د روس په ضد
مظاهرې پیل کړې او د ګولیو په بارانو کې به بناره ته راوتل او د روس
په ضد به یې شعارونه ورکول . خصوصاً په ځوانو کې په زرهاؤ ملالی

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغلې ته شوې اوسینې پې ګولیو ته سپرکړې، پښې ولګولې اوځوګې
په نړه شهیدان شول خو نهضت په میاشتو - میاشتو غلی نشو، پراخ
شو، وسیع شو، د افغانستان ګوټ - ګوټ سنګر - سنګر او
پلۍ - پلۍ پې عسکر - عسکرشو؛ دا بریالی او قهرمانانه جهاد په نړه
دوام لري او دوام به کوي خصوصاً د روستۍ میاشتې د جهاد دېرې
پې ساري میاشتې دي او روس او د روس بچیان پې لکه موږک غوندې
پخپلو عسکري قرارګاوُ کې محصورکړي دي .

تردې وخته پورې د انګریز انو او روسانو لومړنیو تېریو
د یونیم سل کلنې فاصلې سره - سره یوبل ته سره ورته لاره وهلې
خو روسانو د تېرې موده ولې اوږده شوه ؟ دا یوه مهمه پوښتنه
ده او د اوږدېدلو عوامل پې هم وپرسي .

ددې اوږدې جهاد لوی توپیر دا دی چې هغه وخت د جهاد
قایدان او مشران له کلیونه را ولاړ شول ، خلك پې تنظیم کړل
او د جهاد د پیل په وخت کې یو په بل پسې کابل ته ورسېدل
اوهلته په عین حال کې چې د جهاد مشران وو د جبهو قوماندانان
هم وو ، د هغو مشرانو د پرولې د تشتت او تفرق له پاره نه بلکه
د دې له پاره وُ چې دیوه مشر په شهادت سره پې بل مشر ځای
ډک کړي او د جهاد قوماندانې په لاس کې واخلي ، هغوي په
دې فکر کې نه وو چې د شهیدانو له پاکو وینو نه د هوټلو ،
مانیو او مرفه ژوند خاوندان شي بلکه هغوي ترټولو وړاندې
سرونه قربانۍ ته وړاندې کړي وو ، د هغوي ترڅنګ د ښځو

(c) ketabton.com: The Digital Library

د نفاق او درز اچولو لاس کار نشوای کولای او ډیر زیر
به یې د دښمن د سیسې په صاد قانه ډول سره افشاء کولې او
په ګډه به یې د دسایسو او وسا وسوځه نیوله. هغوی په
مقدس قرآن ټینګ ایمان درلود، سر بښندل ورته آسان وو
خو په قرآن او سوګند نه درېدل ورته ګمز او له ایمانه
تېرېدل ښکاره بدل.

خو ښ متأسفانه د جهاد د اخوا بدله شوې ده، د جهاد
مشران له افغانستان نه د باندې او د جهاد له سنګرونو
نه دوهړ لیرې دي چې حتی د غزې هم غوښته نه ږسېږي،
دوی د هربښت د دې له پاره نه دی چې د جهاد په صفونو کې تینګښت
راولي بلکه د دې له پاره دی چې د جهاد واحد صفونه په څو برخو
وویشي او کله - کله د دې زمینه هم برابره کړي چې یوه مجاهده د له
د بلې مجاهدې د لې غاړې ته ولوېږي، په خپل منځ کې سره وجنګېږي
او اصلي دښمن تر پاچې شي، همدا راز متأسفانه د جهاد مشران
د امارتونو په القابو کې د پاچاهی کلتور په تر لاسه کولو بوخت
دي او د موټرو، ماڼیو، عیش، راحت او استراحت په لټه کې دي.
اوم متأسفانه دښمن د جهاد صفونو ته خپل اوښد او ناولی لاس را
غزولی او په تفتین بوخت دی.

خوله دې مایوس کوونکو عواملو سره - سره د هیواد په ګوټ -
ګوټ کې د جهاد ګرمند یتوب موږ داډه کوي چې دا مقدس جهاد
هم دبري پولې ته لنډ شوی او د عیش او نوش کې مصروف مشران

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ځای به جهاد مشري بیا هغه اتلو او قهرمانو قوماندانانو
ته انتقالیږي چې په سخت ژمي ، لوړو غرونو او هوارو دښتو کې په
جهاد بوخت دي او دکولیمو په باران کې د دښمن په لوړځ په
وړاندې ورځې او سنګرونه یې یو پر بل پسې له فتحې وروي .
هوښ باوري یو لکه څرنګه چې انګریزانو شرهبد ونکی ماته
خوږلې هدا سې شرهبد ونکې ماتې ته روسان هم ور لنډ شوي
او د تېري وحشیانه څپې یې ډیر ژر په ټرهبد ودي .
و من الله التوفیق وعلیه التکلان .

(c) ketabton.com: The Digital Library

در پیمه برخه :

د بالاحصارنندارہ

سُرخروي يې تل په وينود دښمن ده
د کابُل بالاحصار کې دا اثر دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کابل د شپږ دروازې غږه د تاریخي لړۍ په خپلـه
پیلامه کې د بالاحصار پر تمینه کلا د نکه غاړه ولاړه وه ، تول
کابل یې ترنظر لاندې ؤ ، د کابل سپاره ساتنې د پاخه سنګر
په توګه یې په سلهاؤ کلونه خپله تاریخي وظیفه سرته رسوله
او افغاني عسکرو ته یې د تل له پاره په خپل زړه کې ځای
ورکړی ؤ .

د ۱۸۳۹ع کال د اوړي یوه دېره نوده او دوپ ورځ وه ،
په اصطلاح پېریانو تنورونه اچولي وو ، د خوپ له لاسه
هوا توره سپکاږه دله او د رنا په زړه کې یې یوه توره تیاره خوږله ،
په هداسې یوه ورځ د بالاحصار دروازې پرانستلې شوې ، د افغاني
عسکرو پرځای ناآشنا پوځیان ورته را ننوتل چې سره مخونه ،
سره ویښته او شنې وچې - وچې سترګې یې درلودې ، دوی
راغلل د افغاني عسکرو مورچې یې ونړولې او د کابل سپاره
ځارنه یې له دې پاخه سنګرنه پیل کړه ؛ د ا د انګریزانو
د هغه څلورپنځوسو زرینو پوځ له دلې څخه ووچې ظاهر ا "
افغانستان ته د " دوست " (؟) لښکر په توګه د فراري
شاه شجاع له خوا رابلل شوې وو خو په حقیقت کې شاه شجاع

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دوی له خوا افغانستان ته راوستل شوی وُ .

بالاحصار خپلو نورو میلمنو حیران ـ حیران کتل چې دد ې حصار له لمنې سره د توپونو په ډزو سره پاچا یې سلامي وشوه او په دې وسیله په کابل کې د شاه شجاع خپلواک حکومت اعلان شو ، پاچا اعلان صادر کړچې : زه په خپل مورونۍ تخت کښیناستم او دوستې قراوړې ، زما د قانونې حق د راسپارلو له پاره راسره راغلې دي اوکله چې زما تخت تهینلې او مخالفین وځپل شي بیا به دا دوستې قراوړې بېرته خپل لوی هیواد ته ستنیږي ! .

خو بالاحصار په ډېر ستړکې کتل چې ورته راغلې شین ستړکې میلمنه د کورپه هرڅه واکداري کوي او د کور د میرمنې په توګه ځان ښیي او حتی ددې زړور (؟) پاچا د خپلې خوږې هم د همدې له خوا د یکتې کېږي ؛ دی چوپ او غلی وُ خو دا ران په دې خاورینو دیوالونو کې محصور پاتې نه شو ، خو شو او په ټول هیواد کې افشاء ! .

د افغانستان میرنې او په خپلواکۍ مین ملت د خپل کور غاصب ته له پخوا نه بد ورګې وُ اوس غوسمن او قهرجن را پاڅید ، د هیواد په ګوټ ـ ګوټ کې پورې ـ ورې غونډې وکړې ، ورې غونډې پسې لویې شوې توحید شوې ، سره ښرګې شوې ، یولاس شوې ، تر کابل را چاپېر شوې ، د بالاحصار د پخو دیوالونو غونډې پې د مقاومت انساني دیوالونه جوړ کړل ،

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغونډ شول او د ۱۸۴۱ع کال د مني د نومبر د دوهمې نېټې
د سهار په خره کې يې د قرآن کريم په محکمې رسمې باندې د پښې
تړې په کولوسره پاڅون وکې او قيام او د بالاحصار لمنې ته
يې لاس واوبدکې، انګريزان يې همهلته ايسار کړل، په نشه لاسو
خو د مقاومت په پولادينو کاموبنو مخ په وراندې ورغلل، شهيدان
يې ورکړل او قربانيان! او له هُمدې شهيدانو نه يې زينې جوړې
کړې، د بالاحصار لوړو ديوالونو ته پرې ور وختل، تړې ورواوښتل،
انګريزان يې داور په لمبو کې را سنبل کړل، د بالاحصار لمن
يې ددوی په وينو تکه سره کړه، اوددې تاريخي حصار پاکه غېږه
يې ددوی له ناپاکو وجودونو څخه پاکه کړه.

بالاحصار نندارې کوله چې په فريب راغلی دښمن د توپې په زور
له بالاحصار څخه اوبيا له افغانستان څخه وايستل شو اوچا چې
دا دوستان (؟) رابللی وو د هغه وينې يې هم له دوی سره کډې
کړې.

دېر کلونه وروسته هدا شين ستر کی ميلمانه يوځل بيا راغلل،
د بالاحصار لوړو ته يې پورته نشوی کتلی او د خپل قهرمن ولي
له پاڅې يې د اور لنبې ورته کړې. پوښ او سرلوړی بالاحصار د
اورخوراک شو خو دښمن ته يې سر ټيټ نه کې او په کنده کپرځای
په خپل ځای سرلوړی پاتې شو.

کلونه تېرشول او پېړۍ واوښتې بالاحصار هدا سې سرلوړی
ټروندتيراوه، د خپل وروسته پاتې هيواد نندارې يې کوله

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو د خپلو غيورو بچو مېرانې او غيرت يې زړه تکيه کړی وُ .

د ۱۹۷۹ع کال د وروستۍ مياشتې وروستۍ شپې وړځې او دژمي ډيره يخه اوخړه پرې وړځ وه ، يخ په رکوتو کې وينه وچوله ، د دسمبر ۲۷ وړځ وه چې يوځل بيا د بالاحصار دروازې پرانستې شوې ، د افغاني عسکرو په ځای بيا هم نا اشنا پوځيان ورته راننوتل چې ددوی هم سره مخونه ، سره ويښته او شونډې چې ستر کې وې خو فرق دومره وُ چې هغه نا آشنا ميلمانه د غربي بنکيلاک ځوي وو چې د ختيځ له لارې هېواد ته راننوتي وو او داد شرقي بنکيلاک بچيان وو چې د شمال له لارې يې هېواد ته ورننه کړې وه ؛ دوې هم د افغاني عسکرو مورچې ونيولې او د کابل ښار خارنه يې له دې پاڅه سنګرنه پيل کړه ، هو ! داد روس د هغه سل زر کسيز پوځ له دلې څخه وو چې بيا هم افغانستان ته د دوست (؟) لښکر په توګه د فراري ببرک له خوا را بلل (؟) شوي وو خو په حقيقت کې ببرک دوی افغانستان ته راوستلی وُ .

بالاحصار بيا هم خپلو نوبو ميلمنو ته حيران - حيران کتل چې د بالاحصار له لوی لوړ سپيکرنه د ببرک خپلواک (؟) حکومت اعلان شو ، ببرک وويل چې زه د تخت د مستحق په توګه رئيس جمهور شوم او دوستي قواوې (؟) د افغانستان د سا تلو له پاره راسره راغلې او کله چې مخالفين وځپل شي او د امپرياليزم لاس غوڅ ختمه شي بيا به دا دوستي قواوې بېرته خپل لوی اوسولې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوست (؟). هیواد ته ستنیږي .

بالاحصار بیا هم کتل چې د اځل راغلې شین ستر کې مبلنه م دکورد مړمنې په توکه اختیارات په لاس کې لري او ببرک د یوه لوړ سپیکر په حیث غږمبنږي ، قلقلی کوي او کومې شلوي ، دی بیا هم غلی اوچوپ ژوپه شاوخوا کې پې په دې سارې ژمې کې تاوده سنګرونه جوړېدل اوفقط دوې میاشتې وروسته دحوت په درېیمه نیټه داسې هم وشول چې یوځل بیا لکه یونیم سل کاله وړاندې د کابل ښار د «الله اکبر» ملکوټي غږونو په سر واخیست او د هیواد خلک په خپل پې دینه دښمن پسې په تش لاس راپاڅېدل او د دښمن له تانکونوسره پې غږپې ورکړې ، دا ډول ولاړېدنې پې بیا بیا ولیدې او د هر ځل د توروشپو په زړه کې داسې هم وشول چې د هیواد غیرتي زامنو بیا هم د بالاحصار لمنه وښوه او د بالاحصار دیوالونه پې د دښمن په وینو ورنګول .

بالاحصار هره شپه او ورځ د هداسې پېښو تماشاچي دی خو د دښمن د بېرو وینو له پاڼې تنده ورځ په ورځ لا زیاتېږي او د اړه دی چې هغه ورځ به هم د بېرژر را ورسېږي چې دا شین ستر کي مبلمانه یوځل بیا په دسته جمعی ډول دده په پښو کې قربانی شي .

زه یو سهار د بالاحصار د شرقی دروازې په لمنه کې تېرېدلم چې ور وړې کتل په دروازه کې عسکرو پیره کوله ، په سنګو

(c) ketabton.com: The Digital Library

مې تیاره راغله خوچې لږ وروسته ښه ځیر شوم دد ې
دروازې هغه دبرین زمریان چې د افغانی عسکرو مترخنګ به
یې سرونه سنګارېدل هم له منځه وړل شوي وو ، ما په
دې دبرینو زمرو پسې د تأسف سرخوځاوه چې یو ناڅاپه
مې د « شهدای صالحین » په لور د بالاحصار په لوړ اوږدې
دیوال چې زور شوی وُ خو نسکور شوی نه وُ ، سترګې ولګېدې
بالاحصار نندارې کوله ، د لمر زرینو وړانګو یې د منځ وړې
وړې شکې ځلولې اوپه دې ځلا کې یې د حال په ژبه ویل
« خیر دی که دښمنانو زما د لمنې دبرین زمریان له منځه
یوړل خوله مانه تاوراتاو د وطن زمري بچیان مې د مقابلې
ته چمتو دي اوما په دې سترګو لیدلي چې داځل به هم دا زمریا
دا سې بریالی کېږي لکه څوځله چې دخپلو قوي دښمنانو په مقابل
کې بریالی شوی اوپه تش لاس یې خپل زورور دښمن زما په پښو
کې قربانی کړي دی ! » .

پښوته نه ځي هسکه غاړه به اوسیږي
زمانه ده ، حادثې دي ، زمونږ سردی

(پای)

(c) ketabton.com: The Digital Library

ضمیمه

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لیکوال نور چاپي آثار

۱ـ « پوهنه او پښتو ادب » (د علم او پوهې په ارزښت باندې د پښتو شاعرانو نظریې) ؛ په « پوهنه » مجله کې پرله پسې خپرشوی دی ؛ ۱۳۴۱ ش / ۱۹۶۲ ع .

۲ـ « ولی » (ددې کلمې پر ۳۳ معناؤ څېړنه) ؛ په پوهنه کې پرله پسې خپرشوی ؛ ۱۳۴۳ ش / ۱۹۶۴ ع .

۳ـ « سکروټي » (د انتقادي شعرونو مجموعه) ؛ ۱۳۴۵ ش / ۱۹۶۶ ع .

۴ـ « په پښتو نظم کې د تاریخ استخراج » (څېړنه) ، دارساله لومړی په « آریانا » مجله او بیا په « کابل » مجله کې خپره شوې ده ؛ ۱۳۴۵ ش / ۱۹۶۶ ع .

۵ـ « بربښ » (انتقادي او انقلابي شعرونه) ؛ د شهید پاچا حنیف له « سپېده » نومې شعرونو سره یوځای ؛ ۱۳۴۶ ش / ۱۹۶۷ ع .

۶ـ « د هوټکونارې » (د شفاهي منظوم تاریخ یوه مجموعه) ، ناشر : « پښتون کتاب فروشی » ، ۱۳۴۹ ش / ۱۹۷۰ ع .

۷ـ « د خلکوسندرې » (د پښتو اولسی ادب د ډولونو معرفی او څېړنه) ، ناشر : « د افغانستان د تاریخ او ادب ټولنه » ؛ ۱۳۴۹ ش / ۱۹۷۰ ع .

۸ـ « د پښتو پخوانۍ تذکرې » (د پښتو تذکرو تذکره) ؛ ناشر :

(c) ketabton.com: The Digital Library

« د افغانستان د تاریخ او ادب ټولنه » ؛ ۱۳۵۰ ش / ۱۹۷۱ء .

۹ - « د افغانستان لومړنی کاغذي پیسې » ، (په افغانستان کې د کاغذی پیسو تاریخچه) ؛ په « آریانا مجله کې خپره شوې ۱۳۵۰ش/ ۱۹۷۱ ع .

۱۰ - « د سقراط محاکمه » (د افلاطون لیکنه) ؛ په پښتو ژباړه ؛ د « زیري » په جریده کې پرله پسې خپرشوی ، ۱۳۵۰ش / ۱۹۷۱ع کال .

۱۱ - « سقراط په زندان کې » (د افلاطون لیکنه) ؛ په پښتو ژباړه ؛ د « زیري » په جریده کې پرله پسې خپرشوی ، ۱۳۵۱ ش/ ۱۹۷۲ ع کال .

۱۲ - « د تاریخ ټولنې کتابونه » (اختصاصی ببلیوګرافی) ؛ ناشر: « د افغانستان د تاریخ او ادب ټولنه » ؛ ۱۳۵۱ش/۱۹۷۲ع .

۱۳ - « د جمهوریت ویډیې » (د جمهوریت په باب د ویلو شعرونو مجموعه) ؛ ناشر: « پښتو ټولنه » د « کابل مجلې » اداره ؛ ۱۳۵۲ ش/ ۱۹۷۳ ع .

۱۴ - « ادبي ستوري » - لومړی ټوک - (د لرغونو شاعرانو تذکره) ناشر: « پښتو ټولنه » ؛ ۱۳۵۳ ش / ۱۹۷۴ ع .

۱۵ - « پښتو پانګه » - لومړی ټوک (کتاب پېژندنه) ؛ ناشر: « پښتو ټولنه » ، ۱۳۵۴ ش / ۱۹۷۵ ع .

۱۶ - « تېرې یادونه » (د ملي ویاړنو په یاد کې ویلې شعرونه) ؛ ناشر: « د افغانستان د تاریخ او ادب ټولنه » ؛ ۱۳۵۴ / ۱۹۷۵ع .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۷ - « د روښان یاد » (د بایزید روښان د بین المللی سمینار د مقالو مجموعه) - تولونه - ناشر : « پښتو ټولنه » ؛ ۱۳۵۵ش/ ۱۹۷۶ ع .

۱۸ - « روښانی لیکنې » (د روښانیانو د آثار و معرفي)، ناشر: لومړی ځل په « آریانا » مجله او بیا په « روښان یاد » کې خپرشوی ؛ ۱۳۵۵ش/ ۱۹۷۶ ع .

۱۹ - « خواجه عبدالله انصاري او دده مناجاتونه » (د خواجه کتابښود او په مسجع نثر دده د مناجاتونو ژباړه) ؛ ناشر : « د پښتو د پرمختیا او پیاوړتیا آمریت » ؛ ۱۳۵۵ش/۱۹۷۶ع .

۲۰ - "پښتو د پیړیو په پوړیوکې " (د پښتو ادب یو لنډ ځاج)؛ د اثر لومړی د ۱۳۵۵ کال په « افغانستان کالنۍ » کې او بیا په « نقش فرهنگی افغانستان » نومی کتاب کې خپور شوی ؛ ۱۳۵۵ش/ ۱۹۷۶ ع .

۲۱ - « فولکلور د علم مور » (پر علمی پرمختګونو باندې د فولکلوري فکر اثر) ؛ د اکتاب د « فولکلور » په مجله کې پرله پسې خپور شوی ، ۱۳۵۵ - ۱۳۵۶ ش/ ۱۹۷۶ - ۱۹۷۷ ع .

۲۲ - « پښتو ادبی ټولنې » (د ادبي ټولنو او مرکزونو پیژندګلوی) په « پلوشه » مجله کې پرله پسې خپره شوې ، ۱۳۵۵ - ۱۳۵۷ش کلونو پوری / ۷۶ - ۱۹۷۸ ع .

۲۳ - « ای هیکواده! ای هیکواده! » (د هیواد په ستاینه کې شعر ونه) ؛ ناشر : پښتو ټولنه » ، د « زیری » جریدې اداره ؛ ۱۳۵۶ش/۱۹۷۷ .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲۴ - « پښتو خپرونې » (د پښتو جریدو، ورځپاڼو او مجلو پېژندګلوی) ؛ ناشر : « د پښتو د پرمختیا او پیاوړتیا ټولنه »، ۱۳۵۶ ش/ ۱۹۷۷ ع .

۲۵ - « په افغانستان کې د ژورنالیزم تاریخچه » ؛ ترجمه او تالیف ؛ ناشر : د تاریخ او ادب ټولنه » ؛ ۱۳۵۶ ش/ ۱۹۷۷ ع . (د اثر یوازې سل نسخې نشر او پاتې د خلقیانو په وحشي دوره کې په مطبعه کې سانسور اود اور خوراک شو) .

۲۶ - « پښتو کتاب ښود » (د پښتو د یونیم زر توکوچاپي کتابونو فهرست) ؛ ناشر : « د بیهقي کتاب خپرولو موسسه » ؛ ۱۳۵۶ ش/ ۱۹۷۷ ع .

۲۷ - « معرفة الافغانی » (د پښتو لومړنۍ ژبنۍ کتاب، د پیر محمد کاکړ تالیف) ؛ سریزه او د متن برابرول ؛ ناشر : د اطلاعاتو او کلتور وزارت، د ننګرهار مجلي مدیریت ؛ ۱۳۵۶ ش/ ۱۹۷۷ ع .

۲۸ - « د رحمان بابا دیوان » ؛ د انتقادي متن مقدمه، د متن مرتب : محمد عارف غروال ؛ ناشر : « پښتو ټولنه » ؛ ۱۳۵۶ ش/ ۱۹۷۷ ع .

۲۹ - « د پښتونخواد شعرهار وبهار » (د فرانسوي مستشرق دارمستتر ټولونه) ؛ د مقدمو پښتو ترجمه او چاپ ته چمتوکول ؛ ناشر : پښتو ټولنه ؛ ۱۳۵۶ ش/ ۱۹۷۷ ع .

۳۰ - « پښتو پانګه » (دوهم ټوک) - د پښتو آثارو بیلیوګرافي ؛ ناشر : پښتو ټولنه ؛ ۱۳۵۶ ش/ ۱۹۷۷ ع .

۳۱ - « د سره غره ګلونه » (د پښتو څلورو ټنو لرغونو شاعرانو -

(c) ketabton.com: The Digital Library

مشرحه تذکره)، د بناغلی زلمی هیوادمل په ملتیا - لومړۍ د «زیری» د ۱۳۵۷ کال په کالنۍ کې او بیا د امان کتاب چاپولو موسسې څانګړی نشر کړه؛ ۱۳۵۷ ش/۱۹۷۸ع .

۳۲ - « دارالامان - بنار اومانۍ » (د دارالامان دجوړېدو - تاریخچه) ؛ په « آریانا » مجله کې خپور شوی ، ۱۳۵۷ ش/۱۹۷۸ع.

۳۳ - « څوب » (د جهاد د شعرونو مجموعه) ، د سمون په مستعار نامه - ناشر: امان کتاب ؛ ۱۳۵۸ ش/۱۹۷۹ع؛ پېښور .

۳۴ - « ناسیونالیزم او ملی مسایل » (د سلو پوښتنو او ځوابونو په بڼه د افغانستان د تولنې ، ملی هیلو او ارتیاوو او مقدس جهاد ساده سیاسي څېړنه) - د سمون په مستعار نامه - ناشر: د «اسد» اداره ؛ ۱۳۵۸ ش/۱۹۷۹ع ، پېښور .

۳۵ - « ادبی ستوری » - دوهم ټوک - ناشر: د هنر او کلتور - ریاست ۱۳۵۹ ش/۱۹۸۰ع .

۳۶ - « ادبي ستوري » - دریم ټوک - په خواره ډول د «زیری» په جریده او «کابل» مجله کې خپور شوی ؛ ۱۳۵۹-۱۳۶۰ش/۱۹۸۰-۱۹۸۱ع .

۳۷ - « د واصل روښانی الفنامې » ؛ (مقدمه - تصحیح او لغتنامه)؛ په « کابل مجله کې خپره شوې ؛ ۱۳۶۰ ه ش / ۱۹۸۱ع .

۳۸ - « د پښتو نۍ ادب » ، (د پښتو د معاصر ادب د ولونه او اصناف څېړي) ؛ ناشر د کابل پوهنتون ، د اثر د افغان یاد نومې مجموعې کې خپور شوی دی) ؛ ۱۳۶۰ ش/ ۱۹۸۱ع .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳۹ - « ژب پالنه » (پښتو ژبې د پالنې اوروزنې تاریخ)؛ ناشر: د افغانستان د علومو اکادیمی؛ ۱۳۶۰ ش/ ۱۹۸۱ ع .

۴۰ - « ناوې پښنه اخله سپرپره ! » (د پښتنی ودونو پر دودونو یوه څېړنه) ؛ دا رسالې په راډیو افغانستان کې پر له پسې یوکال خپره شوې ده ؛ ۱۳۶۰ ش/ ۱۹۸۱ ع .

۴۱ - « د نیمو شپو سندرې خوندکړي » (د پښتو پر اولسي ادب یوه نوې څېړنه)؛ ددې اثر یوه برخه د بنا غلی غروال د « غزنی سندرې » کتاب د مقدمې په توګه خپره شوې او انګریزي ترجمې یې د پښتو څېړنو د نړیوال مرکز په « پښتو » مجله کې پر له پسې نشر شوې ده ؛ ۱۳۶۰ ش/ ۱۹۸۱ ع .

۴۲ - « زرینې څانګې » (د پښتو د تخلیقي ادب د ولونه) ؛ لومړی د زیری د ۱۳۶۰ کال په کالنۍ او بیا خا نګړی خپرې شوی دی ؛ ۱۳۶۰ ش/ ۱۹۸۱ ع .

۴۳ - « زنځیره » (د خوشال خان خټک په یوه اثر تحقیق)؛ دا اثر یوه برخه کابل مجلې خپرکړې ؛ ۱۳۶۱ ش/ ۱۹۸۲ ع .

۴۴ - « پښتو درامه » (د پښتو درامې تاریخ) ؛ ناشر : د افغانستان د علومو اکادیمی ؛ ۱۳۶۱ ش/ ۱۹۸۲ ع .

۴۵ - « په افغانستان کې د سید جمال الدین افغان خدمتونه» ناشر : سنټرل ایشیا ، پېښور پوهنتون ۱۳۶۲ ش/ ۱۹۸۳ ع .

۴۶ - « اورونه او ویرونه » (د انقلاب د دورې شعرونه) ناشر: امان کتاب ، ۱۳۶۳ ش/ ۱۹۸۴ ع ، پېښور .

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴۷ - « د شمال له خوا شمال دی » (شعرونه) ، ناشر: امان کتاب ، ۱۳۶۳ ش / ۱۹۸۴ع ، پېښور

۴۸ - « زندان » (شعرونه) ، ناشر: امان کتاب، ۱۳۶۳ش/۱۹۸۴ع

۴۹ - « د وینو بهیر » (شعرونه) ؛ ناشر: امان کتاب، ۱۳۶۳ش/۱۹۸۴ع

۵۰ - « انجام » (شعرونه)؛ امان کتاب ، ۱۳۶۳ش/۱۹۸۴ع .

۵۱ - « تصویر » (شعرونه)؛ امان کتاب ، ۱۳۶۳ش/۱۹۸۴ع .

۵۲ - ورک زوی څنګه پیدا شو ؟

د اخوند احمد رح تالیف ، مقدمه اوسمون ، په ۱۳۶۴ کال د امان کتاب خپرونه .

۵۳ - حدیث خون ، د استاد پژواك څوجهادی شعرونه، د محمد روحانی میلنی ټولونه ، سریزه او ژوند لیک ، امان کتاب ۱۳۶۴ش

۵۴ - فالنامه ، د خوشال خان خټک ، سریزه - سمون او لغتنامه د پېښور پښتو اکیډمی خپرونه ، ۱۹۸۵ع کال .

یادونه: د « ۸ » نومره کتاب « پښتو پخوانۍ تذکرې » پاتې لړۍ د « پښتو اوسنۍ تذکرې » په نامه پروفیسور ولی محمد خان سیال کاکړ کښلې چې د چاپ له پاره چمتوده ، همدارنګ د « ۲۲ » نومره کتاب « د پښتو ادبي ټولنې ، د دوهم ټوک لیکلو له پاره څوان لیکوال او شاعر ښاغلی شیخ نوید علی بنوید » اقدام کړی او انشاءالله ژر به چاپ ته چمتو شي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

B
4·36
RAF
1611

امان
د امان کتاب ډپوو ټولنه
پېښور

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library